# وخت تریږی

که خوله چُب ونیسم غم پرما زیاتیږی
که خوله وځپږم ستونزی می ډیریږی
داځه حال اوځه تورتم دی پر افغا ن
چي قاتل د افغانان اولسمشریږی
دا ځه عد ل او انصاف د آسمان دي
چی داشرارپه لاس هرافغان ځوریږي
داسی ښکاری چی دعدل غوړکوڼ د ی
قضاوت چی په پیسو سره خرڅیږی
د ملا په فرهنګ کی اقناع نشته
په حلوا ځکه ملا چی نه مړیږی
دروغجن او حریصان سره واکمن دی
ریښتیا هیڅکله اوس دلته نه چلیږی
په ټاکنو کی ټګی او درغلی
د رژیم له ښو عاداتو شمیرل کیږی
ته پخپله یي ډیر ګرم وطنواله
که نه غل ولی په مخ دی ودریږی
هغه غل او قاتل ستا دمال او د ورور
اوس د ستا په وټ غټ ریس کیږی
سر دی کوز که یوځلی ګریوان ته
ولی تا نه د«مل» هرخبره هیریږی
افغا نا نو سره زر لاس دی یوکړه
داشرارو ټغر ټول که وخت تیریږی

****

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
داپریل پنځلسم ۲۰۱۴